PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۹۰۳

لسم کال - دویمه دوره، ۹۰۳ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۷۰گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لړم ۳ مه - د دو شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۱۷ مه ۲۰۱۰ د اکتوبر ۲۵ مه

حملهٔ مسلحانه عضو شورای ولایتی بر ساختمان یک ولسوالی

یک عضو شورای ولایتی غور با افرادش حین حمله بر تعمیر ولسوالی چهارسدهٔ ولایت غور، بازداشت شدند.

عبدالحی خطیبی سخنگوی والی غور گفت که غلام یحیی عضو شورای ولایتی با افرادش، صبح دیروز بر ساختمان ولسوالی چهارسده حمله کردند.

وی افزود که این عضو شورا و همراهانش با سلاح های سبک و سنگین مجهز بودند و بعد از یکساعت درگیری؛ وی و هشت تن از همراهاش توسط پولیس دستگیر شدند. ص۳

لوړه د ناامنۍ په څپر یوه بله خوړونکې بلا



نسیم بریال – په هېواد کې د روانې ناامنۍ او د بدرۍ ترڅنګ، چې د زرګونو او حتا د مېلیونونو افغانانو ژوند ګوابنې، لوړه هم هغه خوړونکې او زېبنونکې بلاده، چې د افغانستان وګړي وسره مخ دي او هره ورځ يې ژوند ګوابنې.

که اوسمهال په هېواد کې په دې برخه کې یوه دقیقه او بې پرې سروې وشي او دا کچه معلومه شي، چې څومره هېوادوال بډای ژوند لري، څومره منځنی او څومره يې بې وزله ژوند لري، نو دا به په ډاګه شي، چې له دې جملې نه به د هغو کسانو فیصدي تر ټولو لوړه راوخېژي، چې په بې وزله ګروپ کې قرار لري. ځکه یو وخت په همدې وروستیو کلونو کې په دې برخه کې د یوې بهرنۍ موسسې له خوا یوه سروې شوې وه، چې په هغې کې په ټوليزه توګه د افغانانو د ژوند سطحه د فقر تر کرښې ټیټه ښوول شوې وه. داسمه ده، چې په هېواد کې لوکس لوکس بلډېنګونه جوړ شول او جوړ پرې او همداشان لوکس او د ورځې مودې موټرونه تر بل هر هېواد دلته زیات دي، خو دا د دې نماینده ګي نه کوي، چې ګواکې په افغانستان کې د خلکو د ژوند سطحه لوړه شوې ده. ښایي د افغانستان د ټول نفوس لس سلنه خلک په دې رډیف کې راشي، چې د ژوند سطحه يې لوړه وي، نو په عمومي توګه د ټول نفوس نوي سلنه خلک په ډېره ټیټه سطحه ژوند کوي او په دې نوي سلنه کې بیا پنځوس سلنه يې داسې خلک دي، چې حتا د ژوند لومړنۍ اړتیاوې هم په ډېره سخته توګه پوره کوي. د دغو ټولو ستونزو اصلي لامل په هېواد کې بېکاري، فساد، ناامني او په لویه کچه د دولت او نړیوالې ټولنې بې غوري ده او له دې سره سره یو بل مهم لامل يې د کمزورې اقتصاد درلودل او بیا يې پر وړاندې قېمتي او د بیو لوړوالی دي.

په همدې ترڅ کې په دې ورستیو کې یوې نړیوالې موسسې هم په افغانستان کې یوه سروې کړې او په افغانستان کې يې د لوړې ستونزې څېړلې او په دې اړه يې اندېښنه هم ښوولې ده. دغه موسسه چې د اکشن ایډ په نامه یاد پرې، د خپلې څېړنې پر بنسټ وایي: ((په افغانستان څه باندې اوه میلیونه خلک د خوړو د مصئونیت له نشتوالي سره مخ دي، ۳۶ فیصده خلک د خوړو په شمول د ژوند اساسي اړتیاوې نه لري ۳مخ

۱۲۰ نامزد انتخابات پارلمانی متهم به تقلب شدند

کمیسیون شکایات انتخاباتی از متهم شدن ۱۲۰ نامزد انتخابات پارلمانی به دست داشتن در تقلب خبر داده است.

احمد ضیا رفعت، عضو و سخنگوی این کمیسیون در یک نشست خبری گفت که ۹۶ تن از این نامزدان از سوی کمیسیون انتخابات و ۲۴ نامزد دیگر از سوی نهادهای امنیتی به کمیسیون شکایات انتخاباتی معرفی شده اند.

اتهام نامزدانی که از سوی کمیسیون انتخابات معرفی شده "تخطی و تقلب" عنوان شده و اتهام آنهایی که از سوی نهادهای امنیتی معرفی شده اند، استفاده از کارت های جعلی در انتخابات پارلمانی ۲۷ سنبله گذشته اعلام شده است.

رفعت گفت که این نامزدان حق دارند، تا پنج روز آینده دفاعیهٔ خود را در فورم ویژه یی که از قبل به همین منظور ترتیب شده، درج و به دفتر مرکزی کمیسیون شکایات انتخاباتی ارایه کنند.

سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی افزود که این کمیسیون تصمیم نهایی خود در مورد اتهام های مطرح شده علیه این نامزدان را پس از بررسی دفاعیه های آنها اعلام خواهد کرد.

رفعت، اسامی این نامزدان را اعلام نکرد، اما گفت که آنها در ۲۴ حوزهٔ انتخاباتی کشور نامزد بوده اند.

به گفتهٔ او، ۲۳ تن از این نامزدان از حوزهٔ کابل، ۱۱ تن دیگر از ولایت پکتیکا، ۱۱ نامزد از ولایت قندهار و بقیه از ولایت های دیگر هستند.

فرد اول نامزدان هرات حذف شد:

در همین حال، احمد ضیا رفعت گفت که نثاراحمد فیضی غوریانی، نامزدی که نام او بر اساس نتایج اولیهٔ انتخابات، در صدر فهرست نامزدان برنده قرار دارد، از حق نامزدی محروم شده است.

به گفتهٔ رفعت اتهام مطرح شده علیه فیضی غوریانی ''استعفا نکردن به موقع از وظیفهٔ دولتی'' ص۳

۲۰۱۰مرگبارترین سال برای نیروهای خارجی در افغانستان

با کشته شدن یکی دیگر از نیروهای خارجی تحت رهبری امریکا در افغانستان، شمار تلفات نیروهای خارجی در این کشور به ۶۰۰ تن در سال جاری میلادی رسید که نسبت به ۸سال گذشته (از آغاز جنگ افغانستان تاکنون) بی سابقه است.

منابع خارجی از کشته شدن یکی از نیروهای ناتو بر اثر انفجاری در جنوب افغانستان دیروز خبر دادند.

با وجود اینکه هنوز بیش از دو ماه دیگر تا پایان سال جاری میلادی زمان باقی است، شمار تلفات نیروهای خارجی در افغانستان تا امروز نسبت به سال های ۲۰۰۱تا ۲۰۰۹،رقمی بی‌سابقه را نشان می‌دهد.

سال ۲۰۰۹نیز از نظر تعداد تلفات نیروهای ناتو در افغانستان نسبت به سال‌های پیش از آن بی‌سابقه بود. در سال ۲۰۰۹، ۵۲۱ تن ص۳

دوسیه های افراد محکوم به اعدام دوباره بررسی می شود

رییس جمهور کرزی به ارگان های عدلی و قضایی افغانستان دستور داده است، تا بالای دوسیه های محکومان به اعدام غور مجدد کنند.

دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری دیروز خبر داد که این دستور روز گذشته در اجلاس مسوولان نهادهای عدلی و قضایی افغانستان که در ارگ ریاست جمهوری دایر شده بود، صادر گردیده است.

وزارت عدلیه افغانستان گفته است که حدود ۱۰۰ تن از افراد به خاطر ارتکاب اعمال مختلف به اعدام محکوم شده اند که بالای دوسیه های آنان غور مجدد صورت می گیرد.

در خبر آمده است که هیأت موظف برای تحقیقات در خصوص زندان مخفی در بگرام نیز گزارش اولیهٔ خود را در این مورد ارایه کرده است، اما در این خصوص، توضیحات زیاد داده نشده است.

نیویارک ټایمز:

د ولسمشر کرزي د دفتر رییس له ایرانه پیسې اخلي

دا اساسآ ولسمشر ته رشوت دی.د داوودزي ماموریت دا دی چې د ایران ګټې پرمخ یوسي

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په پرونۍ ګڼه کې د افغان مقاماتو په قول راپور ورکړ چې د ولسمشر کرزي تر ټولو اعتماد وړ او نږدې کس، عمر داوودزي ته ایران پیسې ورکوي. د ورځپاڼې د راپور له مخې، عمر داوودزي چې د ولسمشر کرزي د دفتر رییس دی او تر دې مخکې په ایران کې د افغانستان سفیر و، د اګست په یوه مابنام له ولسمشر کرزي سره د ایران په رسمي سفر کې ملګری و. ورځپاڼې د یوه افغان مقام له قوله، چې په دې سفر کې له ولسمشر کرزي سره په الوتکه کې یوځای وو، لیکلي: «کرزی د کابل په هوایي ډګر کې په الوتکه کې یوې نړیوالې موسسې هم په افغانستان کې یوه سروې کړې او په افغانستان کې يې د لوړې ستونزې څېړلې او په دې اړه يې اندېښنه هم ښوولې ده. دغه موسسه چې د اکشن ایډ په نامه یاد پرې، د خپلې څېړنې پر بنسټ وایي: ((په افغانستان څه باندې اوه میلیونه خلک د خوړو د مصئونیت له نشتوالي سره مخ دي، ۳۶ فیصده خلک د خوړو په شمول د ژوند اساسي اړتیاوې نه لري ۳مخ



مهاجران مستقر در جلال آباد و انبوهی از مشکلات

۲

دلوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

روند شکنندهٔ انحلال شرکت های خصوصی امنیتی

هیلری کلنتن، وزیر خارجهٔ امریکا روز گذشته در صحبت تیلفونی با رییس جمهور کرزی خاطر نشان کرد، ایالات متحدهٔ امریکا و افغانستان باید طرح مشترکی برای جایگزینی شرکت های امنیتی خصوصی داشته باشند. پی جی کراولی، سخنگوی وزارت خارجهٔ ایالات متحدهٔ امریکا روز گذشته گفت هیلری کلنتن در این مورد با حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان تیلفونی صحبت کرده و پیشنهاد خودش را در میان گذاشته است. او گفته است که در صورت انحلال شرکت های امنیتی تا ماه دسمبر، ممکن است، برخی از پروژه های بازسازی و کمک رسانی به دلیل نبود امنیت، تعطیل شوند. به گفتهٔ کراولی، هیلری کلنتن پیشنهاد کرد، طرح مشترکی ترتیب شود، تا به مروز زمان جایگزین شرکت های امنیتی خصوصی گردد. کراولی افزود: "کلنتن وعده کرد که برای حمایت از انتقال آرام همه مسوولیت های امنیتی به افغانستان، با هماهنگی کار می کنند". باید گفت که درپی پافشاری دولت افغانستان برتوقف فعالیت شرکت های امنیتی خصوصی در کشور، شرکت های عمرانی فعال در افغانستان اعلام کردند که در صدد لغو قرارداد و یا محدود کردن فعالیت های خود در افغانستان هستند. این شرکت ها از این طریق می کوشند، با اعمال فشار بردولت رییس جمهور کرزی، آن را وادار به پس گرفتن فرمان انحلال شرکت های امنیتی خصوصی کنند که پایان سال ۲۰۱۰ را، ضرب الاجل تعیین کرده است. روزنامهٔ واشنگتن پست به نقل از منابع موثق در دولت امریکا با اعلام این خبر تاکید کرد، لغو پروژه های در دست اجرای شرکت های عمرانی یک و نیم میلیارد دالر از بودجهٔ عمرانی و سازنده گی درافغانستان را خواهد کاست. به نوشتهٔ این روزنامه، شرکت "دیوالاپمنت آلترناتیف " از جملهٔ شرکت های عمرانی است که دفتر مرکزی اش در واشنگتن است و از محدود کردن فعالیت های خود در افغانستان خبرداده است. این شرکت ها ادعا می کنند، با لغو فعالیت شرکت های امنیتی خصوصی، امنیت کارکنان شان در افغانستان به مخاطره خواهد افتاد. چنین به نظر می رسد که هدف اصلی از صحبت تیلفونی خانم کلنتن با رییس جمهور کرزی روی همین مسأله است. خانم کلنتن با استفاده از قدرت دولتی امریکا در پی سبوتاژ تصامیم مشروع دولت کرزی است؛ این در حالی است که رییس جمهور کرزی بارها برتوانایی نیروهای پولیس و امنیتی کشور به منظور تامین امنیت شرکت های ساختمانی فعال در کشور تاکید کرده است. وی معتقد است، مصارف سنگینی که جامعهٔ جهانی به شرکت های امنیتی خصوصی در افغانستان می پردازند، باید برای آموزش و تجهیزات پولیس و اردوی ملی کشور اختصاص یابد. گفته می شود، عقب نشینی اخیر کرزی در برابر فشارهای امریکا و ناتو، شرکت های ساختمانی را نیز امیدوار کرده است که با محدود کردن فعالیت خود در افغانستان دولت وی را به عقب نشینی بیشتر وادار کنند. حامد کرزی اخیرا" تحت فشارهای واشنگتن و مقام های ناتو با ادامهٔ فعالیت شرکت های امنیتی خصوصی که از سفارت خانه ها، موسسات و پایگاه های نظامی و منازل کارکنان سفارتخانه ها حفاظت می کند، موافقت کرد. بااین حال وی تاکید کرد که از سفارت خانه ها فشارهای مضاعفی بر دولت کابل وارد می شود، تا با فعالیت این شرکت ها در عرصه های مختلف موافقت کند. رییس جمهور کرزی اخیرا" با متهم کردن شرکت های امنیتی خصوصی به راهزنی و اقدامات تروریستی، خواستار انحلال آنها در افغانستان شد. حدود ۵۰ شرکت امنیتی خصوصی با حدود ۳۰ هزار سرباز درافغانستان فعالیت می کنند که مهمترین آنها "زی سرویس " یا همان "بلک واتر" ، بد نام ترین شرکت امنیتی خصوصی است که جنایاتش در افغانستان و عراق بر کسی پوشیده نیست. به گفتهٔ کارشناسان، شرکت های امنیتی خصوصی در قاچاق اسلحه، موادمخدر و جنایات سازمان یافته دست دارند و به گفتهٔ وزیر داخلهٔ کشور، نیروهای امنیتی از این شرکت ها مقادیر زیادی سلاح غیرقانونی را نیز کشف کرده اند.

به عنوان سخن آخر باید ابراز داشت، از آنجا که شرکت های امنیتی خصوصی در مقابل هیچ نهاد و مقام دولتی پاسخگو نیستند، دولت و مردم ادامهٔ فعالیت آنها را موجب تشدید ناامنی و ادامهٔ بحران در کشور می دانند؛ بنابراین، در این شرایط ، تلاش شرکت های ساختمانی امریکایی و مقام های دولتی این کشور به ویژه وزیر خارجهٔ این کشور برای وادارکردن دولت کرزی به عقب نشینی بیشتر در مورد لغو فعالیت شرکت های امنیتی خصوصی، با اینکه نوعی دخالتی آشکار در امور داخلی افغانستان است، این روند را بیشتر شکننده می سازد. از سوی دیگر، این مسأله می تواند، استقلالیت و خود ارادیت دولت کرزی را بیش از پیش کمرنگ جلوه داده و در نهایت موجب ناکارآمدی بیشتر نظام در افغانستان گردد.

مهاجران مستقر در جلال آباد و انبوهی از مشکلات



مهاجران بازگشته از پاکستان به جلال آباد مرکز ولایت ننگرهار، می گویند که مشکلات آنها با آمدن زمستان بیشتر گردیده و در این راستا، خواستار کمک از حکومت هستند.

حدود سه ماه قبل، صدها فامیل از کمپ های شهر پشاور و اطراف آن، به علت سرازیر شدن سیلاب ها در مناطق مختلف پاکستان، به شهر جلال آباد برگشته و در باغ های زیتون مستقر شده اند.

سفیراحمد یکتن از باشنده گان ولسوالی خوگیانی که در حال حاضر در یک باغ زیتون در نزدیکی فارم هده خیمه زده است، گفت که سیلاب ها در پاکستان، تمام لوازم خانهٔ آنها را با خود برده است.

وی علاوه نمود: "ما دست خالی به کشور بازگشتیم؛ در اینجا در باغ ها زنده گی می کنیم؛ اما تا حال هیچ کسی با ما کمک نکرده است".

سفیر افزود که تنها در یک باغ، ۲۵۰ خانوادهٔ بازگشته زنده گی می کنند.

وی از مشکلات صحی و عدم موجودیت آب آشامیدنی صحی، شکایت نموده گفت که برای یک بُشکه آب، چند کیلومتر مسافه را طی می کنند.

ثمرگل ۶۰ساله باشندهٔ ولسوالی کامه که از پشتونخواه به جلال آباد بازگشته است، به پژواک گفت که در اینجا نه منزل و نه هم برای خرید مواد غذایی پول دارد.

وی علاوه نمود که تا حال مؤسسات و حکومت، هیچ نوع کمکی نکرده و اطفال آنها با مشکلات مواجه اند.

موصوف گفت: "خودم ریش سفید هستم، کار کرده نمی توانم، ۹ اولاد دارم، دختران را برای کار فرستاده نمی توانم و پسرانم کوچک اند".

حاجی غلام حیدر رییس امور مهاجران ولایت ننگرهار گفت که در باغ یادشده، مهاجران ولایات ننگرهار، کندز، کاپیسا و کنر مستقر هستند.

اما وی علاوه نمود که این افراد، به شکل غیرقانونی در باغ ها زنده گی می کنند و ریاست مهاجران، آن اندازه امکانات در اختیار ندارد که به آنها کمک کند.

نامبرده افزود که هر ولایت، برای مهاجران ریاست دارد و مهاجران ولایات مربوط، باید به ولایات خود مراجعه کنند.

وی علاوه نمود: "مهاجرانی که مربوط این ولایت اند و اسناد دارند، در آیندهٔ نزدیک با آنها کمک صورت خواهد گرفت".

امریکا و سیاست تنبیه و تشویق در برابر پاکستان

واشنگتن در برابر اسلام آباد گاه به سیاست تنبیه روی می آورد و گاه تشویق.

با این حال، امریکا و پاکستان در سومین دور مذاکرات استراتیژیک خود بر همکاری های استراتیژیک فراگیر و طولانی مدت بین دو کشور تاکید کردند.

دولت امریکا در تلاش جدیدی برای ارتقای همکاری های خود با پاکستان، از کنگرهٔ امریکا خواست، تا ۲ میلیارد دالر به اردوی پاکستان کمک شود، اما در عین حال اعلام کرد، امریکا نقض حقوق بشر در پاکستان را تحمل نخواهد کرد. از سوی دیگر، گفته می شود، امریکا به دنبال تقویت حضور سیا در پاکستان است. صدراعظم پاکستان تصریح کرد که جامعهٔ جهانی پاکستان را به عنوان یک کشور هسته‌یی به رسمیت می‌شناسند و اسلام آباد خواهان روابط خوب با تمامی همسایه گان خود از جمله هند است.

باید گفت که در این روزها، رابطه میان اسلام آباد و واشنگتن در صدر اخبار بین المللی قرار دارد. واشنگتن یک روز از در تنش با اسلام آباد وارد می شود و روز دیگر از باب نرمش. بارک اوباما یک بار ادعا می کند که دیگر زمان هدیهٔ چک سفید امضا شده به پاکستان به اتمام رسیده است و روز دیگر از کنگره می خواهد که بودجهٔ درخواستی برای اسلام آباد را تصویب کند. به گزارش اسوشییتدپرس؛ در بیانیهٔ مشترک سومین دور مذاکرات استراتیژیک بین امریکا و پاکستان، کاخ سفید متعهد شده است، تا تلاش‌های خود را برای وضع قانون تقویت روابط تجارتی و بازسازی و تاسیس صندوق پروژه‌ها از سوی کنگرهٔ امریکا افزایش دهد.

همزمان و در اقدام تشویقی دیگری، هیلری کلنتن، وزیر خارجهٔ امریکا تاکید کرد که دولت امریکا از کنگره درخواست می کند، تا با کمک مالی دو میلیارد دالری ارتش پاکستان موافقت کند. کلنتن تاکید کرد که دولت خواهان ارایهٔ این کمک مالی به اردوی پاکستان از سال ۲۰۱۲ تا ۲۰۱۶ است.

کلنتن برای به دست آوردن دل پاکستانی ها و پایان دادن به تنش اخیر گفت: امریکا دارای شریک قدرتمندتری از پاکستان در مبارزه با تروریزم و افراط گرایان نیست.

د ولسمشر کرزي د دفتر رییس له ایرانه ...

نیویارک ټایمز په کابل کې د افغان او لوېدیځو مقاماتو په قول وایي چې د پیسو دا بکسونه د ایران له لورې د هغو پټو پیسو سلسله ده چې د دواوودزي د وفاداري د اخیستلو او د ولسمشرۍ په مانۍ کې د ایران د ګټو د ساتنې لپاره ورکول کېږي.

یوشمېر افغانان پر کرزي تور لګوي چې د ایران تر اثر لاندې دی او له همدې کبله ایران پلویو ډلو ته پر له پسې امتیازونه ورکوي. کرزي په تېرو نهو کلونو کې ایران ته بشپړه ازادي ورکړې چې په افغانستان کې د خپل کولتوري، مذهبي او سیاسي نفوذ د پراختیا لپاره کار وکړي.

د تاند وېبپاڼې د راپور پر بنسټ، په کابل کې یوه لوېدیځ مقام د ایران له لورې ورکړای شویو پیسو ته په اشاره وویل: «دا اساساً ولسمشر ته رشوت دی. د دواوودزي ماموریت دا دی چې د ایران ګټې پرمخ یوسي.»

ورځپاڼه وایي چې ولسمشر کرزي اوداوود زي دواړو له ایران سره د خپلو اړیکو په باب پوښتنې ته له ځواب ویلو ډډه وکړه.

ایا ایران کرزي او که یواړي داوودزي ته معاش ورکوي؟

نیویارک ټایمز د مقالې په دوام کې لیکلي: څرګنده نه ده چې ښاغلی داوودزی دا پیسې د ځان لپاره اخلي او که یې د ولسمشر کرزي لپاره اخلي. افغان او لوېدیځ مقامات وایي چې ښاغلی داوودزی په دوبۍ او د کاناډا د بریټش کولمبیا ایالت په وانکور ښار کې شپږ کورونه لري او دا کورونه یې وروسته له دې اخیستې چې د کرزي په دفتر کې مقرر شوی دی. که دا تورونه ثابت شي د کرزي او د ده د حکومت لپاره لوی شرم دی چې ایرانیان یې تر څه حده په پوستکي کې ننوتي دي، خو تر دې لوی شرم به هاله وي چې په دې رشوت خوري، یا معاش اخیستلو کې د افغانستان ولسمشر په خپله شریک وي. ایران په افغانستان کې د خپلو خاصو ګټو په خاطر تل افغانستان ته ستر ګې نیولي او حتا د قاجاریانو په دوره او له هغه راوروسته د رضاخان په دوره کې یې هم د افغانستان په دربارونو کې معاش خواره جاسوسان لرل چې د یوشمېر جاسوسانو نومونه او عکسونه یې په نوي یمې لسیزې کې د دغه هواد د خارجه وزارت د یوه سند په توګه په یوه کتاب کې چاپ کړل.

نیویارک ټایمز لیکي: یو افغان سیاسي مشر وایي چې دی باور لري چې داوودزي په هرو دوو میاشتو کې له ایرانه له یو میلیون تر دوو ملیون ډالرو پورې تر لاسه کړي دي.

ورځپاڼې په افغانستان کې د یوه پخواني دیپلومات له خولې کښلي چې ځینې وخت داوودزي ته په یوواړ شپږ میلیون ډالره هم ورکړای شوي دي.

په راپور کې دا هم ویل شوي چې د ایران لپاره په افغانستان کې د داوودزي ځینې هلې ځلې له مقاومت سره هم مخامخ شوي دي. د لوېدیځو مقاماتو په وینا له داوودزي سره هغه وخت د استخباراتو جنجال راغی چې ده کوشش کاوه په کابل کې له ایرانیانو سره په کاروبار کې مرسته وکړي. افغان استخباراتي مقامات باور لري چې ایراني مقامات د دغې هوا د د سپاه پاسدارن د ګارد غړي دي.

یوه لوېدیځ مقام وویل، د ایرانیانو کاروبار د ملي امنیت دا دارې له لوري بند کړای شو خو د ډېرې مودې لپاره نه ځکه چې داوودزي ورسره مرسته وکړه چې ببرته فعال شي.

نیویارک ټایمز دا هم لیکلي چې په کابل کې د ایران سفیر د افغانستان په سیاسي چارو کې هم پوره ښکېل دی. هغه اوس هڅه کوي چې په خپله خوښه د ولسي جرګې مشر غوره کړي.

ورځپاڼه زیاتوي چې د ایران سفیر حسین مالکي په وروستیو ورځو کې میرویس یاسیني ور بللی و او له هغه یې غوښتي وو چې د قانوني په ګټه د ولسي جرګې ریاست ته له کاندیدولو ټېر شي.

تر دې پخوا هم په کابل کې ځینو افغانانو له ایران سره د ښاغلي داوودزي پر پټو اړیکو شکونه څرګند کړي و، خو دا موضوع یواړې داواړې تر حده وه.

حملهٔ مسلحانه عضو شورای ...

سخنگوی والی ادعا کرد: مسوولان امنیتی قبلا اطلاع یافته بودند که غلام یحیی با مخالفان مسلح دولت ارتباط برقرار نموده و برای حمله بر تعمیر ولسوالی، آماده گی می گیرد. خطیبی، این عضو شورای ولایتی را یکی از قوماندانان سابق محلی و قوماندان امنیهٔ غور در وقت حکومت مجاهدین خوانده است. خطیبی خاطر نشان ساخت که نامبرده بعدا به علت بیسواد بودنش به اساس اصلاحات اداری، خانه نشین گردیده بود. وی بعدا خود را به شورای ولایتی نامزد نمود و برنده شد.

مل پاسوال عبدالباقی نورستانی قوماندان امنیهٔ غور می گوید که از نزد این عضو شورا و همراهانش سه میل کلاشنکوف و سه راکت به دست آمده است.

نورستانی متذکر شد که هنوز معلوم نیست، علت حملهٔ وی بر تعمیر ولسوالی چه بوده! اما تحقیقات در زمینه آغاز شده است.

این درحالی است که پریروز پسر قوماندان امنیهٔ چهارسده در حملهٔ افراد مسلح ناشناس مجروح گردید و پولیس علت آنرا ناشی از خصومت های شخصی عنوان نمود.

۲۰۱۰مرګبارترین سال برای ...

از نیروهای خارجی شامل نیروهای ناتو و سربازان امریکایی در افغانستان جان باختند. از زمان آغاز حمله امریکا به افغانستان در سال ۲۰۰۱تاکنون، بیش از یک هزار ۳۴۰ نفر از سربازان امریکایی در جریان این جنگ و ناآرامی‌های حاصل از آن در افغانستان کشته شده اند.

۱۲۰ نامزد انتخابات پارلمانی ...

بوده است. به این ترتیب اگر تصمیم کمیسیون شکایات نهایی و قطعی باشد، او به ولسی جرګه راه نخواهد یافت.

با این حال، فیضی غوریانی با کسب نزدیک به ۱۸ رای در حوزهٔ انتخاباتی هرات هنوز هم در صدر فهرست نامزدان پیروز در این حوزه قرار دارد.

پیش از این کمیسیون انتخابات افغانستان گفته بود که نتایج اعلام شده، نهایی نیست و احتمال آن وجود دارد که با بررسی شکایات و دوسیه های موجود در کمیسیون شکایات انتخاباتی، نتایج انتخاباتی تغییر کند.

بررسی شکایات مطرح شده علیه نامزدان انتخابات در کمیسیون شکایات انتخاباتی ادامه دارد و این کمیسیون آرایی را که درست نداند، باطل اعلام می کند.

در تازه ترین مورد، این کمیسیون آرای مربوط به ده ها محل رای گیری را در چندین ولایت باطل اعلام کرده و این آرا دیگر شامل آرای معتبر نخواهند شد.

احمد ضیا رفعت افزود که زمان دریافت شکایت های انتخاباتی از روز یکشنبه، ۲ عقرب به پایان رسیده است. به گفتهٔ او، تا حال بیش از ۵۳۰۰ شکایت دریافت شده و به بیش از هزار ۷۰۰ شکایت رسیده گی شده است. رفعت همچنین گفت که کمیسیون شکایات انتخاباتی تا سه هفتهٔ دیگر به همه شکایت های مطرح شده رسیده گی خواهد کرد.

در پی رسیده گی به شکایات انتخاباتی، کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان نتایج نهایی انتخاباتی پارلمانی را اعلام خواهد کرد.

د روانو خونړیو ستونزو...

د افغانستان دولت له جګړې ستومانه شوی دی. دولت غواړي چې هېواد ارامه شي او د اقتصادي پروژو د عملي کولو وخت وموميي چې عاید یې د سبا ني او بې له بهر نیانو افغانستان لګښتونه پوره کړای شي. امریکا او ناتو هم غواړي چې له منځلارو طالبانو سره روغه وکړي او ځان ته داوړو یوه پړه جوړه کړي. بل لور ته طالبان که څه هم چې د سولې په اړه به زغرده څه نه وایي؛ خو د سولې عالي شورى يې رد نه کړه او کېدای شي چې د نورو مخالفینو په ګډون د سولې په اړه یو ډول تمایل وښیي. د سولې لپاره سیمه ایزه مینه هم پیاوړې ښکاري؛ ځکه د افغانستان د جګړې اغیزو رو-وروله پولو څخه وځي او په سیمه کې لمن غوړوي. د پاکستان ډېرې سیمې ناکراره دي. د پاکستان ستر حریف هندوستان د امن احساس نه کوي، په ایران کې چاودنې او یرغمل نیونې پیل شوې او کېدای شي چې دا ناکراري نورې هم زیاتې شي او د تاجکستان په (رشت) کې دوه-درې جګړې وشوې او تر پنځو سو زیات دولتي سرتیري پکې ووژل شول. کېدای شي چې دا عوامل د ګاونډیو هېوادونو مشران هم دې ته اړ باسي چې د هغه هڅو ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې د سولې لپاره هڅې وکړي او تاجکستان کې د سولې لپاره هپیل شوی او راتلونکی یې لا تیاره ښکاري. د افغانستان جګړه کورني عوامل لري. خلک له دولته خپه دي، په واک کې تولنیز عدالت نشته، د هېواد یو شمېر فکري بهیرونه له واک څخه بهر پاتې دي، اقتصادي پرمختګ سست دی، خلک دولت په خپل زړه او کور کې نه وینې. د بهرنیو پوځونو خپلسري عملیات او ملکي تلفات خلک هره ورځ له دولته لرې کوي؛ خو دا جګړه لا له دې هم ژورې ریښې لري؛ د دولت د مخالفینو فکر چې په سلګونه کاله یې له ښارونو او تمدن څخه لرې په کوچیانې بڼه یا په کلیوالو سیمو کې ژوند کړی او له مکتب، روغتون، لوړو زده کړو، پوهنتون، سړک، سوداګري، رادیو، تلویزیون، اخبار، تمدن او مدنیت څخه لرې پاتې شوي، تر ډېره وخته پورې د نوي ژوند، مدرنیتي او د ژور تولنیز بدلون په وړاندې خنډ جوړیدی شي. له روسانو او خلقي-پرچمي غورځنګ سره د افغانستان دولت هم همدې فکري ظرفیت کې وده وکړه او شوروي اتحاد یې د رې وړې کړ. چې خبره سپینه کړو طالباني فکر د افغانستان په ډېرو سیمو او په ځانګړې توګه په جنوبي او ختیځو سیمو کې پلویان لري او په حقیقت کې د روانې جګړې ظرفیت په همدې ولس کې پروت دی. دا ولس باید په دې ګناه ونه وژلی شي، بلکه له دوی سره مرسته وشي چې پرمختګ او بدلون ته چمتو او د نوي ژوند جوګه شي. دا خبره مو ځکه وکړه چې د سولې عالي شورا باید دې ټکي ته متوجه اوسي. بله خبره دا ده چې د افغانستان خلک په خپلو سیمو او هېواد کې بهرني پوځونه نه شي زغملای. له پردیو سره د افغانستان د خلکو تاریخي مخالفت د دولت اوسني وسله وال اپوزیشن ته قوت ورکوي او دوی نورو جګړو ته هڅوي. په کار ده چې دا پوځونه په افغانستان کې قانوني شي او د پاتې کېدلو یا وتلو لپاره یوه ملي اجماع منځ ته راشي. د افغانستان په دولت کې ډېر کسان نه مسلکي دي، نه متخصص، نه متعهد او د زور او مصلحتونو له مخې په کار ګومارل شوي دي. ځنې د اکسان د الس کالې د دې ولس په اوږو سپاره ګرځي. ځینو دغه بناغلو له طالبانو او حزب اسلامي سره اوږدې جګړې کړي او سولې ته ډېر لیواله نه ښکاري. د اخلک په همدې جګړه کې چاغ شوي او په جګړو کې پیسې ګټي. دا عوامل بهرنیانو ته موقع په لاس ورکوي چې د دولت مخالفینو ته وسلې او پیسې ورکړي او جګړو ته یې هڅوي. چې خبره لنډه کړو د سولې د شورى په مخکې درنه دنده پرته ده. شورا دې دولت ته وایي چې مطروحه شرایط یې ډېر درانه دي. مخالفین د ولسواک نظام ټول ارزښتونه، اساسي قانون او بهرني پوځونه نه مني؛ خو د اسې ارزښتونه شته چې د واړه خواوې خبرو ته وهڅوي. اسلام، افغانستان، ګډ تاریخ، ګډه جغرافیه، ګډ ملي دودونه، ګډ تاریخي ویاړونه، ګډ اتلان، د ماشومانو ګډ سرنوشت او نور داسې ارزښتونه شته چې دواړو خواوو ته د درناوي وړ دي او کېدای شي چې د خبرو لپاره ښه زمینه برابره کړي.

نهستې او لوړې له پدیدو سره د مبارزې لپاره سره یو شو. یو له هغو کارونو چې باید ترسره شي، د کرنې په برخه کې د پایدارو پرو ګرامونو اجرا کول دي، ځکه چې تر اوسه پورې په افغانستان کې پنځلس یا شپاړلس فیصده ځمکه کرل کېږي، ځمکه ډېره ده خو لږه ګټه تري اخیستل کېږي. په ج ګړو کې د افغانستان داوبو رسولو سیستم خراب شوی دی او بیارغونې ته اړتیا لري.) د دغې موسسې له خوا په خپره شوې اعلامیې کې راغلي چې د ناامني په شان لوړه هم د افغانانو ژوند ګواښوي. په اعلامیې کې ناامني، وچکالي، کم کرنیز تولید او طبیعي افات په افغانستان کې د لوړې اساسي عوامل بلل شوي.)) دا هغه څه وو، چې په دې اړه یادې موسسې وربانديې تبصره کړې او په اړه یې اندېښنه ښوولې ده. خو څوک شته چې پر دغو ستونزو او ګوابنو نو باندې غور وګروي؟ که مسئله دولت ته راجع کړو، نو دولت په دې برخه کې هېڅ هم نه دي کړي، ځکه دولت د یوې داسې ډلې کسانو په اختیار کې دی او یا په بله وینا دولت له داسې ډلې کسانو جوړ دی، چې هغوی پر لوړه خبر هم نه دي او نه لوړه پېژني، چې څه ته وایي! ځکه په دولت کې له یوه سره فیوډالان موجود دي او فیوډالېزم سیستم چلېږي. اکثره لوړپوړي چارواکي لوکس ژوندونه لري، لوکس بلډینګونه لري، لوکس موټرونه لري، نو ځنګه به دوی د بېوزلو هېوادوالو درد او غم درک کړي او په اړه به لازم اجراات وکړي. د دې پر ځای چې دوی د دې ستونزې غمه وخوري، د دغې ستونزې د غوړېدا زمینه پخپله همدوی برابروي. که په دې وروستیو کلونو کې د بهرنیو هېوادونو له خوا د مرستو بهیر او ډالرو ته پاملرنه وکړو، نو دا خبره په ډاګه کولای شو، چې افغانستان ته دومره ډالر مرسته ورکړل شوه، چې که چېرې د دغو ډالرو د هریوه سلګون نوټ مساحت واخلو او د افغانستان له مساحت سره یې پرتله کړو، نو ښایي مساحت یې د افغانستان تر مساحت زیات راووځي. یا نې افغانستان ته دومره ډالر راغلل، چې ان ټول افغانستان یې یواړې په سلګون نوټونو باندې پوښل کېدای شوای او په افغانستان کې د لوړې ستونزه د کلونو کلونو لپاره لرې کېدای شوای، خو افسوس چې دا ډالر او دا مرستې یواړې یو ځوکسانو ته ورسېدې او د هغوی ژوندونه پرې نه شول، په بهر او د ننه کې یې پانګونې او نورې چرچې پرې وکړې او ځان یې نبۀ پرې وپرساوه. اوس د دغه غریب او بېوزله ولس پر حال ډېر افسوس دی، چې هېڅا یې هم غمه ونه خوړله او د میلیاردونو میلیاردونو ډالرو په باران کې بیا هم وچ کلک دي او د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي.

لوړه د ناامنۍ په څېر یوه بله ...

او څه باندې شپیته فیصده یې د متنوع خوړو چې یوه اړتیا ده، وس نه لري. د اکشن ایډ موسسې چارواکي وایي، چې همدا ستونزې په افغانستان کې د مور او ماشوم د مړینې د لوړې کچې له اساسي عواملو څخه هم دي. د دې موسسې رییس جي بي ادهیکاري په کابل کې د خوړو د نړیوالې ورځې د لمانځنې په غونډې کې وویل، په افغانستان کې د لوړې او د خوړو د مصئونیت د نشتوالي د ستونزو هواري لپاره باید د کرنې په برخه کې لا ډېر کار وشي. ده وویل، مور باید په افغانستان کې د

د روانو خونړیو ستونزو جړې

احسان الله ارینزی



د اکتوبر اومه د افغانستان په تاریخ کې یو توره روځ ده. په دې روځ (کال ۲۰۰۱) امریکایي پوځونو پرافغانستان یرغل وکړ او د یوې نیمې میاشتې په ترڅ کې یې د طالبانو واکمني نسکوره کړه. امریکایانو په هغه وخت کې غوښتل چې له القاعده ځخه د هغه یرغل کسات واخلي چې د سپتمبر په ۱۱ د امریکا د متحدوایالاتو د اقتصادي او پوځي غرور په دوو مرکزونو شوی و. په هغه بریدکې د نیویارک په زړه کې د نړیوالې سوداګرۍ غبرګ برجونه ونړېدل، پنتاګون ته درانده زیانونه واوښتل او له بده مرغه چې ۳۰۰۰ انسانان په ووژل شول. د امریکا د متحدوایالاتو چارواکو هغه وخت فکر کاوه چې د افغانستان طالبانو، القاعده ته دا وخت او ځای ورکړی و، چې په امریکا باندې د دې خونړیو بریدونو تابیا وکړي. په هر صورت امریکا په افغانستان پوځي یرغل وکړ، طالبان یې مات کړل او د افغانستان د چارو د سمون لپاره یې د (بن) غونډه جوړه کړه. په دې غونډه کې د امریکا د متحدوایالاتو د چارواکو نظریات د یو ځانګړي کس په واسطه رسول کېدل.

غونډې ته له ۶۵۰۰۰۰ کیلومتره مربع افغانستان او ۲۵ ملیونه افغانانو څخه د ځلورو ډلو ځو- ځوکسان وربلل شوي وي.

۱- د قبرس ډله چې د ګوتو په شمېر کسان یې درلودل او د افغانستان په سیاسي معادلاتو کې یې د ایران د احتمالي ونډې لپاره په قبرس کې غونډې کولې.

۲- د پښتون ډله چې د هر کسان یې د پیر ګیلاني د تنظیم خلک وو او په هیڅ توګه یې په پاکستان کې د ټولو افغان مجاهدینو او په لکونو مهاجرینو استازیتوب نه شوای کولای.

۳- په اروپا او امریکا کې د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پلویان چې د روم د ډلې په نامه یاد ېدل. د دې ډلې د هر کسان ۲۰-۳۰ کاله بهر پاتې شوي او د افغانستان د خلکو ستونزې یې نه په رښتیاني مانا نه شوای احساسولای. لکه چې وروسته ولیدل شول، د دې ډلې ځنې کسان یوازې د دې لپاره کابل ته راغلي وو چې خپل جایدادونه په میلیونونو ډالره وپلوري او بېرته لاړ شي.

۴- شمالي ټلواله (شورى نظار، جمعیت اسلامي، جنبش اسلامي، وحدت اسلامي، حرکت اسلامي) او کېدای شي ځنې نورې وسلوالې ډلې.

۵- کله چې امریکایانو په افغانسان یرغل وکړ، د شمالي ټلوالې مشرانو او قوماندانانو پیسې واخستې او د امریکا د زمکني پوځ په توګه یې په جګړه کې برخه واخیسته!

د (بن) غونډې پرېکړه کړې وه، چې هېڅ پوځي ځواک به کابل ته نه ننوځي؛ خو کله چې طالبان لاړل، دوی په کابل ننوتل، له (کولاب) او (خواجه بهاوالدین) څخه یې خپل (دولت اسلامي افغانستان) بېرته کابل ته راوړل او له رهبره تر عسکره ټول دولتي بستونه یې ډک کړل. د (بن) د پرېکړو له مخې د افغانستان موقته اداره جوړه شوه چې مشر یې ښاغلی حامد کرزی و؛ خو واک عملاً د شمالي ټلوالې، جمعیت اسلامي او نظا شورى په لاس کې و. نظار شورى او جمعیت د موقتې اداړې ځوکې داسې وویشلې چې خپل ائتلافیون یې هم خپه نه کړل؛ خو هغه د چا خبره (اصلي او کلیدي) وزارتونه او منصبونه یې ټول ځان ته ونیول او ځو کسان یې د یوې ولسوالۍ خلک وو! خیر کله چې امریکایان او ملاتړي (ناټووال) یې افغانستان ته راغلل د بریالیتوب لپاره یې دري خبري درلودې:

۱- د افغانستان خلک له راز- راز جګړو څخه ستومانه شوي وو او هله یې در لوده چې په سوله کې د خپل کور- کلي د بیا جوړولو لپاره متې بدوهي.

په افغانستان د شوروي پوځونو لس کلن خونړي یرغل، د جنګي تنظیمونو خپلمنځي جګړو، له مخالفینو سره د طالبانو اوږدو جګړو، د پردیو په لمسون کورنیو جګړو، فقر، لوږې، مهاجرتونو او راز- راز کړاوونو د افغانستان خلک ډېر بېوزلې او ستومانه کړي وو او هېله یې در لوده چې په سوله کې د خپل کور- کلي د بیا جوړولو لپاره متې بدوهي.

۲- د امریکا او ناتو هیبت ډېر زیات و. امریکا د سړې جګړې د پای او د شوروي اتحاد او سوسیالیستي کمپ د نړېدو له امله د نړۍ په یوازنۍ زبرځواک یا ستر ځواک بدل شوی او د نړۍ د خوږلو اشتها یې درلوده.

۳- امریکا چې کوم شعارونه راوړي وو، ډېر په زړه پورې او ښکلي وو: د جګړې پای، سوله، امنیت، وروروالي، په محاکمو کې عدالت، انصاف، ولسواکي، اساسي قانون، د قانون حاکمیت، انتقالي عدالت، د ولسمشرۍ ټاکنې، د ملي شورى ټاکنې، ازاد مطبوعات، د ازاد بازار اقتصاد او...

په هر صورت امریکا او ناتو د دې سترو انساني پلانونو د عملي کولو لپاره موقته اداره جوړه کړه. دغه اداره په دولتي مناصبو او امکاناتو باندې د (چور) د تګلارې په اساس جوړه شوې وه او په هېڅ توګه یې د داسې افغانستان داداره کولو وس نه درلود چې تېرو ۲۱ کلنو جګړو ټوکر- ټوکر کړی و او په هېواد کې د پردیو داستخباراتو اجنټان په سرو ستر ګو ګرځېدل.

که دلته یو مثال راوړو بده به نه وي. په افغانستان کې د موقتې، انتقالي او بیا انتخابي حکومتونو په ډېرو میاشتو او کلونو کې د ننګرهار غوندې مهم ولایت نیمایي چارواکي بېسواده او کم سواده کسان وو! د یوویشتمې پېړۍ د مخابراتو او مخابراتي تکنالوژۍ د انقلابي کلونو په پیل کې د ننګرهار د مخابراتو رییس بېسواده و او (تفداني) یې په (کمپیوټر) نېه بلله!

په افغانستان کې د کمزوره دولت جوړېدل، د خلکو سترې هیلې په اوبو لاهو کړې. انتقالي عدالت عملي نه شو او جنګي مجرمینو د خپل برائت سند په خپل لاس جوړ او لاسلیک کړ. دولتي منصبونه د ضوابطو په ځای د روابطو پر بنسټ وویشل شول، په هېواد کې د حساب ورکولو کولتور په صفر ضرب شو او ځینو خولا فکر کاوه چې د ټول افغانستان د مالکیت قبالې یې ګټلې ده. قوانین جوړ شول؛ خوعملي نه! ډېرو کسانو ځانونه او خپل خپلوان له قانونه پاس ګڼل او قانون ته یې د توتو ارزښت نه ورکاوه، په دولتي امکاناتو چور ګډ شو، لوی- لوی قراردادونه د چارواکو په پچه وختل، د حلالو او حرامو توپیر له منځه لاړ، په تقوا او قناعت سړې کرښې وکاږل شوې او د ډېرو پیسو ګټل په اساسي قانون بدل شول. ملیونونه جریبه یا هکتاره دولتي ځمکه غصب شوه، د پارکونو په ځمکه غیر قانوني ودانۍ جوړې شوې، ځلور- ځلور ښځې ضرور وګڼل شوې او چارواکي لاړل د سروزرو، سپینو زرو، بنګلو، بانکونو، بنار ګوټو، امنیتي کمپنیو، قراردادونو او ډالرو په هوس کې داسې ډوب شول چې خپل جهادي یا اروپایي ارمانونه یې تر پښو لاندې کړل او د دولت او ولس تر مینځ یې د بېلتون او کرکې داسې واټن رامینځ ته کړ چې اوس یې نړۍ په ډېر ځواک او لګښت نه شي کمولای.

دې واټن او کرکې ناراضي ځوانانو، طالبانو او د افغانستان د دولت او په افغانستان کې د بهرنیو د حضور رنګارنګ لروا و نژدې مخالفینو ته دا موقع په لاس ورکړه چې توپک واخلي او خپل پټ مخالفت په مخامخ مخالفت او جګړه بدل کاندي. په دې توګه وینو چې په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې د جګړې لپاره یو نوی نسل راپورته شو چې سرښندنه یې هیڅ حد نه پېژني او نړۍ یې اریانه کړې ده.

بل لور ته ځنې هغه شعارونه چې امریکا له ځانه سره راوړي وو، غلط، دروغ او غیر عملي ثابت شول. په ټاکنو کې پرله پسې درغلیو د ولسواکي ښکلی مخ تور کړ. اجتماعي عدالت هېر شو، د ازاد بازار د اقتصاد په لوبه کې (ډېر په کې خانان شول، د چالاړې ارتینې په کې) یو ځو کسان میلیونران شول؛ خو د افغانستان عام خلک د پولې ټک ته کېناستل. د ښځو د حقونو لپاره ډېر تبلیغات وشول، د داسې عنعنوي هېواد په پارلمان کې د ښځو لپاره ۲۵% سیټونه ېبل شول چې عام ولس لا د داسې پرمختګ لپاره فکري اماده ګي نه لري، ازاد مطبوعات جوړ شول؛ خو ډېر یې د امریکا او ایران په پیسو چې د ملي تفرق لپاره کار کوي او هېواد له نویو_ نویو ستونزو سره مخامخ کوي.

د امریکا یې شعارونو نه عملي کېدلو خلک نور هم له دولته لرې او د ولسواکي د سالم تطبیق په پروسه بې باوره کړل او داسې فکر پیدا شو چې امریکا ولسواکي د ولسواکۍ د مخالفینو او د ښمنانو په لاس جوړوي او ښکاره خبره ده چې کوږ بار تر منزله نه رسیږي!

په هرصورت د کمزوره حکومت کارونو حتى هغه پرمختګونه هم تر سیوري لاندې راوستل چې په دې تېرو کلونو کې په افغانستان کې شوي وو او مثبت بلل کېدل.

د حکومت کمزورتیا، بیساري اداړې فساد، بې امنیتي او د امریکایي شعارونو نه عملي کېدلو، جګړه زیاته کړه او دوسله والو مخالفینو صفونه پیاوړي شول. د دې مخالفینو د ګوریلایي جګړو له امله د امریکا او ناتو سترو- سترو نومونو ته زیان ورسید، د هیبت د نګه مانې یې زیانمنه شوه او نور نو نه ماتېدونکي ځواکونه نه بلل کېږي او په افغانستان کې د ننه او بهر داسې فکرونه پیدا شوي دي چې امریکا او ناتو په افغانستان کې د بریالیتوب چانس نه لري او د وتلو لپاره پلمې لټوي.

په داسې شرایطو کې له ډېره وخته راهیسې د سولې په اړه خبرې کېږي. ښکاري چې ۳ مخ

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهورځپانه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com